IOM UN MIGRATION | GLOBAL DATA INSTITUTE DISPLACEMENT TRACKING MATRIX


د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم (ډي ټي اِم) | افغـــــــانستان

# د خلکو د تګ راتګ په اړه لـــــنډ اوونیز راپور

د ۲۰۲۴ د اپریل ۲۱ څخه تر ۲۷ اپریل، ارقام د شپې تر ۹:۰۰ پورې

## عمومي معلومات

د افغانستان آي اُو اِم د (ډي ټي اِم) پروګرام د خلکو د تګ راتګ د جریان خارني فعالیت د ۲۰۲۴ په پیل کې بیا پیل کړل ترڅو د افغانستان په سرحدونو کې د خوځښت او تګ راتګ په اړه ښه پوه شي. د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ په ۱۰ نېټې، ډي ټي اِم د ایران اسلامی جمهوریت او پاکستان سره په څلورو سرحدی پولو کې ساحوي ټیمونه ځای پر ځای کړل او همدارنګه دا فعالیت په یوې بلې سرحدي پولې، د خوست ولایت په غلام خان کې په ۱۱ دي فبروري پیل شو (لاندې نقشه د سرحدي پولو د موقیتونو لپاره وګورئ)، ترڅو دوه یو له بل سره تړلي یا اړوند فعالیتونه ترسره کړي. لومړی د ټولو هغو کسانو شمیرل دي چې افغانستان ته راځي او یا د افغانستان څخه بهر وځي، چې د جریان د خارني د شمیر په نوم هم بلل کیږي، ترڅو افغانستان ته د تګ او راتګ شمیر معلوم کړي. دوهم د ځمونې په ډول د ځینو کساو یا ډلو سروې ده چې افغانستان ته د راتللو یا وتلو په حال کې ترسره کیږي، چې د جریان د خارنې سروې په نوم هم یادیږي، ترڅو د تلونکو او راتلونکو خلکو د ځانګړتیاوو، هڅو او زیانمنتیا په اړه پوه شي. له پاکستان څخه د کډوالو راتګ پدې اونۍ کې ډیر شوی، ځکه چې د رسنیو خبرونو او راپورونو پر اساس داسې ښکاریده چې د بی اسناد او غیر قانوني افغان کډوالو په خاص ډول د ای سي سي کارت لرونکي د ویستلو لړۍ او دوهم پړاو د ۲۰۲۴ د اپریل په ۱۵ بیا پیل شي. خو د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وایی، تر اوسه یې د بېرته ستنېدو پروسه نه ده پیل کړې. سربېره پردې، د پاکستان حکومت پدې وروستیو کې په پاکستان کې د ۱.۳ ملیون افغان کډوالو لپاره د (پې اُو آر) کارتونو اعتبار د جون میاشتي تر ۳۰ پورې تمدید کړو، چې د (ای سي سي) لرونکو د بیرته ستنیدو وروسته د دوي د بیرته ستنیدو پلان عملي شوي (د امریکا غږ خبرونه). دا مختصر راپور مهم معلومات وړاندې کوي چې د آي اُو اِم د معلوماتو د مختلفو سرچینو د یوځای کولو څخه لاسته راځي، لکه د آي اُو اِم افغانستان د (د جریان د خارني شمېر) او (د جریان د خارني سروې) فعالیتونه او د افغانستان آي اُو اِم د رارسېدو څخه وروسته د بشري مرستو برنامه (سي بي پا ها) او همدارنګه د پاکستان ډي ټي اِم د (د افغان راستنیدونکو په اړه د جریان د خارنې سروې) څخه د اپریل له ۲۱ څخه تر ۲۷ اپریل مودې لپاره. د معلوماتو د راټولو د میتودولوژۍ په اړه د ډیرو معلوماتو لپاره ددې را پور آخري پاڼې ته د (افغانستان ته د راتګ په اړه د آي اُو اِم معلومات) عنوان ته مراجعه وکړئ.




وضاحـــــــــت: دا نقشه فقط د وضاحت لپاره کارول شوې ده او هیڅ کله د آی اُو اِم لخوا د کومې رسمي ادعا یا موافقې په معنی نده

## افغانستان ته راتګ 74,291

افغانستان ته د راتللو په اړه معلومات د هېوادونو پر اساس*


| | ایـــران | پاکستان |
|---|---|---|
| افغانستان ته راتګ | 43,176 | 31,115 |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد لري | نـــشته | 1,821** |
| هغه راستنیدونکي چې اسناد نلري | 33,306*** | 4,497*** |
| هغه راستنیدونکي چې آی اُو اِم ورسره مرسته کړې | 6,531*** | 4,366*** |

## د افغانستان څخه تګ 43,422


د افغانستان څخه د تللو په اړه معلومات د هېوادونو پر اساس****

| | ایـــران | پاکستـــان |
|---|---|---|
| د افغانستان څخه تګ | 24,348 | 19,074 |

### د افغانستان او جمهوري اسلامي ایـــران ترمنځ د مجموعي تګ راتګ په اړه معلوماتي چارټ (جنوري ۱۰ څخه تر ۲۷ اپریل)




### د افـــــــــغانستان او پاکســتان ترمنځ د مجموعي تګ راتګ په اړه معلوماتي چارټ (جنوري ۱۰ څخه تر ۲۷ اپریل)




* د معلوماتو د راټولو د میتودولوژۍ په اړه د ډیرو معلوماتو لپاره ددې را پور آخري پاڼې ته د (آي اُو اِم معلومات د راتګ په اړه) عنوان ته مراجعه وکړئ
** اسناد لرونکي راستانه شوی د (پی اُو آر) کارت لرونکي دي د معلوماتو منبع: د پاکستان ډي ټي اِم او د پاکستان د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو اداره یا (یو اِن اچ سي آر)
*** معلومات د افغانستان آی اُو اِم د راتګ څخه وروسته د بشري مرستو د پروګرام (سی بی پا ها) لخوا ترسره شوی دا برنامه د هغه کسانو سره مرسته کوي چی افغانستان ته راستانه شوي وي او دا برنامه د سرحدي او مرزي کاري ګروپ په واسطه حمایه کیږی. د سرحدونو کاري ګروپ د آي اُو اِم لخوا رهبري کیږي د لا ډیرو معلوماتو لپاره لاندې لینک ته مراجعه وکړئ
https://afghanistan.iom.int/situation-reports.
**** ډي ټي اِم افغانستان د مختلفو ډلو په اړه چې دې وتو په حال کې دي معلومات نه راټولوي

# افغانستان ته راتګ

| افغانستان ته راستانه شوي (سروي شوي) خلک: ۵۰۵۱ | افغانــــــستان ته راســـــتانه شــوي خلک: ۷۴۲۹۱ |
|---|---|

لاندې تحلیل او ارقام دې ۵۰۵۱ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۲۸۶۷ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۲۱۸۴ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه شوي او د ۲۰۲۴ کال د اپریل له ۲۱ څخه تر ۲۷ د اپریل پورې افغانستان ته راغلي. په لاندې معلوماتو کې یوازې هغه افغان وګړي شامل دي چې د تګ راتګ د خارنې او ارزونې د پوښتنو برخې په توګه ورسره مرکه شوي.

افغانستان ته د درېم هېواد ته د ټرانزیټ په نیت راتلل ډېر غیر معمول وو، د نږدې ټولو هغو ځواب ویونکو هدف چې د جمهوري اسلامي ایران یا پاکستان څخه راځي افغانستان وو. جمهوري اسلامي ایران او پاکستان ته ډېرې سفرونه له یو کال څخه لږ دوام کوي. پداسې حال کې چې له جمهوري اسلامي ایران څخه راتګ په عمده توګه ډیپورټ شویو او اقتصادي دلایل دي، له پاکستان څخه په راتګ کې هغه کسان شامل وو چې د داوطلبانه راستنیدو سربېره د کورنۍ د لیدو وروسته بېرته راستانه شوي. د پاکستان څخه د راستانه شویو ترمنځ ډېرې ښځینه ځواب ویونکو ته نسبت نارینه ځواب ویونکوته د سفر عمده دلیل په هغه ځای چې اوسیدل نا امني ته اشاره کړې (۴۷٪ او ۲۳٪).

## ځانـــــګړتیاوې او هېواد ته د راتګ دلایل او قصد

### هغه ځواب ویونکي چې د جمهوري اسلامي ایران څخه راستانه شوي

**د راستانه شویو افرادو په اړه معلومات***

| ښځې | عــمر | نارینه |
|---|---|---|
| 2% | 60+ | 2% |
| 18% | 18-59 | 52% |
| 7% | 6-17 | 8% |
| 5% | 0-5 | 6% |

**د اسناد او مدارک درلودل****

| | |
|---|---|
| آمایش مارت*** | 18% |
| هوشمند کارت*** | <1% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 6% |
| د اعتبار وړ ویزه | 2% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 56% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناود څخه | 36% |

**د زیانمنو ډلو شتون****

| | |
|---|---|
| حامله او شیدي ورکونکي ښځې | 4% |
| مزمن ناروغان او خاص ارتیاوو لرونکی کسان | 1% |
| هغه کورنۍ چې ماشومان یې سرپرستي کوي | <1% |
| مجردې او تنها ښځې | <1% |
| هغه کورنۍ چې ښځې یې سرپرستي کوي | 1% |
| بی سرپرسته ماشومان | <1% |

**هغه موده چې په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډي مودي لپاره > د دريو مياشتو څخه کم | 15% |
| د متوسطي مودي لپاره > د دريو مياشتو څخه زياد تر یو کال پورې | 22% |
| د اوږدې مودي لپاره > د یو کال څخه زیاد | 63% |

**د جمهوري اسلامي ایران څخه افغانستان ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| رد مرز یا دیپورت | 55% |
| اقتصادي دلایل | 43% |
| داوطلبانه راتګ | 43% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| د لنډي مودي لپاره > د دريو مياشتو څخه کم | 4% |
| د متوسطي مودي لپاره > د د دريو مياشتو څخه زياد تر یو کال پورې | 1% |
| د اوږدې مودي لپاره > د د یو کال څخه زیاد | <1% |
| د دې ځای د پریښودو پلان نلرم | 37% |
| نه پوهیږم | 58% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | <1% |

### هغه ځواب ویونکي چې د پاکستان څخه راستان شوي

**د راستانه شویو افرادو په اړه معلومات***

| ښځې | عــمر | نارینه |
|---|---|---|
| 1% | 60+ | 2% |
| 23% | 18-59 | 50% |
| 7% | 6-17 | 8% |
| 4% | 0-5 | 5% |

**د اسناد او مدارک درلودل****

| | |
|---|---|
| پی اُو آر، وي آر اِف کارت*** | 7% |
| اي سي سي کارت*** | 3% |
| د اعتبار وړ پاسپورت | 27% |
| د اعتبار وړ ویزه | 24% |
| د اعتبار وړ تذکره*** | 65% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسناود څخه | 25% |

**د زیانمنو ډلو شتون****

| | |
|---|---|
| زنان حامله یا شیر ده | |
| افراد که امراض مزمن دارند و یا ضرورت های خاصدارند | 1% |
| خانواده های که سرپرست آن اطفال هستند | 0% |
| زنان تنها و مجرد | 0% |
| خانواده های که سرپرست آن زنان هستند | 1% |
| اطفال بدون همراه | 0% |

**هغه موده چې په پاکستان کې پاتې شوي یاست**

| | |
|---|---|
| د لنډي مودي لپاره > د دريو مياشتو څخه کم | 36% |
| د متوسطي مودي لپاره > د دريو مياشتو څخه زياد تر یو کال پورې | 13% |
| د اوږدې مودي لپاره > د یو کال څخه زیاد | 51% |

**د پاکستان څخه افغانستان ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)****

| | |
|---|---|
| داوطلبانه راتګ | 75% |
| د کورنۍ لیدنه | 37% |
| په هغه ځای کې نا امني | 31% |

**د څومره وخت لپاره به په افغانستان کې پاتې شي**

| | |
|---|---|
| د لنډي مودي لپاره > د دريو مياشتو څخه کم | 13% |
| د متوسطي مودي لپاره > د د دريو مياشتو څخه زياد تر یو کال پورې | 14% |
| د اوږدې مودي لپاره > د د یو کال څخه زیاد | <1% |
| د دې ځای د پریښودو پلان نلرم | 6% |
| نه پوهیږم | 67% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | <1% |




* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مل مشرانو سره مرکه شوي
** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دی اساس ممکن فیصدي د ۱۰۰ څخه زیاته شي
*** د آمایش او هوشمند کارت د جمهوری اسلامی ایران لخوا ویشل کیږی. پی اُو آر، وی آر اِف او اي سي په پاکستان کې توزیع کیږی

## افغانستان ته راتګ

هغه هېوادونه چې خلک ترینه راغلي

هغه ولایات چې خلک ورغلي



# د افغانستان څخه تګ

| د افغانستان څخه تللي سروې شوي خلک: ۱۷۳۳ | د افغانستان څخه تللي خلک: ۴۳۴۲۲ |
|---|---|

لاندې تحلیل او ارقام دي ۱۷۳۳ افغان وګړو د ځوابونو څخه لاسته راغلي چې (۵۶۴ د جمهوري اسلامي ایران سره په مرز کې او ۱۱۶۹ د پاکستان سره په مرز کې) د افغانستان د بېځایه شویو کسانو د تعقیب سیستم لخوا مرکه ورسره شوې او د ۲۰۲۴ کال د اپریل له ۲۱ څخه تر ۲۷ اپریل مودې په جریان کې د افغانستان څخه بهر تللي. لاندې معلومات یوازې د هغو افغان وګړو په اړه دي چې د تګ راتګ د څارنې او ارزونې د سروې د یوې برخې په توګه ورسره مرکې شوې دي.
د پاسپورټ، ویزې او د سفر اسنادو درلودل د هغو کسانو په منځ کې نسبتا عام وو چې د افغانستان څخه بهر ځي. دا په داسې حال کې ده چې ډېری هغه کسان چې افغانستان ته راتلل د سفر اسناد یې نه درلودل. د هغو خلکو له جملې څخه چې د هېواد څخه بهر ځي اکثریت داسې خلک دي چې دا یې لومړی ځل دی چې د افغانستان څخه بهر ځي جمهوري اسلامي ایران ته دی تلونکو ځواب ویونکو لویه برخه هغه کسان وو چې د یو کال او یو کال څخه د کم وخت لپاره په جمهوري اسلامي ایران کې دې پاتې کېدو اراده لري. همدارنګه پاکستان ته دی تلونکو ځواب ویونکو لویه برخه هغه کسان وو چې په پاکستان کې د لنډ وخت لپاره د پاتې کېدو اراده لري (د درېو میاشتو څخه کم) په لاندې موارد به د تلونکو خلکو د سفر دلایلو ته اشاره شوې، د خپلوانو لیدنه دي پاکستان او جمهوري اسلامي ایران ته تلونکو خلکو په ځوابونو کې عام وو، روغتیایی خدمتونو ته لاسرسی چې معمولا د لږ وخت لپاره وي پاکستان ته د تلونکو خلکو د ځوابونو لویه برخه ده، د هغه ځواب ویونکو په منځ کې چې له افغانستان څخه جمهوري اسلامي ایران ته ځي د سفر دلیلونه چې ډېری د اقتصادي هڅو سره تړاو لري، په ډېر احتمال کاري فرستونو ته اشاره شوې.

## ځانـــــــګړتیاوې او د هېواد څخه د تګ دلایل او قصد

### هغه ځواب ویونکي چې جمهوري اسلامي ایران ته ځي

#### د تلونکو خلکو په اړه معلومات*

| نارینه | عـــمر | ښځینه |
|---|---|---|
| 1% | 60+ | 1% |
| 89% | 18-59 | 7% |
| 1% | 6-17 | 1% |
| 0% | 0-5 | 0% |

#### د اسناد او مدارک درلودل **

| | |
|---|---|
| د اعتبار وړ پاسپورټ | 100% |
| د اعتبار وړ ویزه | 99% |
| د اعتبار وړ تذکره | 77% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 0% |

#### هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه کم | 15% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 23% |
| د اوږدی مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 28% |
| هیڅ کله د افغانستان څخه بهر ته نه یم تللی | 35% |

#### د افغانستان څخه جمهوري اسلامي ایران ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| اقتصادي دلایل | 73% |
| د کورنۍ لیدنه | 24% |
| مراسم (مذهبی، ټولنیز) سیاحت | 11% |

#### د څومره وخت لپاره به په جمهوري اسلامي ایران کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه کم | 30% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 53% |
| د اوږدی مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 2% |
| د هغه هېواد د پریښودو پلان نلرم | 1% |
| نه پوهیږم | 14% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

### هغه ځواب ویونکي چې پاکستان ته ځي

#### د تلونکو خلکو په اړه معلومات*

| نارینه | عـــمر | ښځینه |
|---|---|---|
| 3% | 60+ | 1% |
| 71% | 18-59 | 17% |
| 3% | 6-17 | 3% |
| 1% | 0-5 | 1% |

#### د اسناد او مدارک درلودل **

| | |
|---|---|
| د اعتبار وړ پاسپورټ | 79% |
| د اعتبار وړ ویزه | 79% |
| د اعتبار وړ تذکره | 82% |
| هیڅ یو له پورتنیو اسنادو څخه | 2% |

#### هغه موده چې په افغانستان کې پاتې شوي یاست

| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه کم | 31% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 13% |
| د اوږدی مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | 20% |
| هیڅ کله د افغانستان څخه بهر ته نه یم تللی | 36% |

#### د څخه افغانستان پاکستان ته د سفر دلایل کوم دي (۳ عمده دلایل)**

| | |
|---|---|
| د کورنۍ لیدنه | 50% |
| صحی خدماتو ته لاسرسی | 44% |
| مراسم (مذهبی، ټولنیز) سیاحت | 23% |


#### د څومره وخت لپاره به په پاکستان کې پاتې شي

| | |
|---|---|
| د لنډی مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه کم | 73% |
| د متوسطې مودې لپاره > د درېو میاشتو څخه زیاد تر یو کال پورې | 10% |
| د اوږدی مودې لپاره > د یو کال څخه زیاد | <1% |
| د هغه هېواد د پریښودو پلان نلرم | 0% |
| نه پوهیږم | 16% |
| نه غواړم چې ځواب ورکړم | 0% |

* د ۱۸ کالو څخه کم عمره وګړو پر ځای د هغوی په استازیتوب د نور ورسره مشرانو سره مرکه شوې
** ځینو کسانو ممکن څو ځوابونه انتخاب کړي وي. نو په دی اساس ممکن فیصدي د ۱۰۰ څخه زیاته شي

## د افغانستان څخه تګ

هغه ولایات چې خلک ترینه ځي — هغه هېوادونه چې خلک ورځي



## افغانستان ته د راتګ په اړه د آی اُو اِم معلومات

ډي ټي اِم افغانستان، ډي ټي اِم پاکستان، او د آي اُو اِم افغانستان له راتګ څخه وروسته بشرۍ مرستو پروګرام (سي بي پا ها) مختلف میتودونه کاروي ترڅو افغانستان ته د راتلونکو کسانو مختلف ډیموګرافیک معلومات راټول کړي. لاندې د جریان چارټ د راستانه شویو خلکو د فرعی ډلو تر مینځ اړیکې روښانه کوي او دا چې څنګه آي اُو اِم خپل مختلف فعالیتونه او میتودولوژي کاروي ترڅو افغانستان ته د راتګ په اړه دقیق او جامع معلومات ترلاسه کړي.

**1 ټول هغه خلک چې افغانستان ته راغلي**

دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم افغانستان د هر فرد تګ راتګ، پرته د تابعیت، اسنادو وضعیت، یا په افغانستان کې د پاتې کیدو پلان په پام کې نیولو سره، چې د اسلام قلعه، میلک، سپین بولدک، غلام خان او تورخم سرحدي پولو څخه افغانستان ته راځي شمیري. دا فعالیت د جریان د نظارت په نوم هم پیژندل کیږی. ډي ټي اِم افغانستان خپل پر جریان څارني سروې فعالیت په کارولو سره د شمیرل شویو کسانو څخه ځینی په نمونی ډول سروې کوي.

**2 افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک**

دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

ډي ټي اِم پاکستان د هغو افغان وګړو شمیر راټولوي چې د سپین بولدک او تورخم له لارې افغانستان ته راستنیږی. بیرته راستانه شوي کسان د هغو افغانانو په توګه طبقه بندي شوي چې اراده لري بیرته راستانه شي او د اوږدې مودې لپاره په افغانستان کې ژوند وکړي، د هغو کسانو په پرتله چې یوازې د سوداګرۍ لپاره سفر کوي یا په موقت ډول افغانستان ته سفر کوي. د جمهوري اسلامي ایران سره په سرحد کې ورته فعالیت نشته.

**3 افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک لري**

دا معلومات د پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

**4 افغانستان ته بیرته راستانه شوي خلک چې اسناد اومدارک نلري**

دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

د اسنادو لرونکو راستنیدونکي شمیر د پاکستان ډي ټي اِم د معلوماتو څخه ترلاسه شوي. د بې اسناده راستنیدونکو شمیر افغانستان ته له راتګ څخه وروسته بشري مرستو برنامه (سي بي پا ها) له معلوماتو څخه ترلاسه شوي.

**5 هغه خلک چې د آي اُو اِم لخوا ورسره مرسته شوي**

دا معلومات د ایران او پاکستان سره په مرز کې راټول شوي

افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو برنامه (سي بي پا ها) د سپین بولدک، اسلام قلعه، میلک او تورخم سرحدي نقطو ته نږدې د استوګنې په مرکزونو کې له بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته کوي.


## د هغه افغانانو په اړه معلومات چې ورسره مرسته شوي

د آي اُو اِم افغانستان د افغانستان ته له راتګ څخه وروسته د بشري مرستو پروګرام (سي بي پا ها) د هغو افغان کډوالو په اړه معلومات راټولوي چې سرحد ته نږدې د استوګنې د مرکزونو څخه تیریږی او د آي اُو اِم او سرحدي کاری شریکانو څخه مرسته ترلاسه کوي. د سرحد کاري ګروپ د آي اُو اِم لخوا رهبري کیږی. د نورو معلوماتو او د سرحدي کاري ګروپ په اړه معلوماتو ته د لاسرسي لپاره، د لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ.
https://afghanistan.iom.int/situation-reports.


د هغه کسانو مجموعی شمیر چې افغانستان ته له راتګ څخه ورسته د آي اُو اِم لخوا ورسره مرسته شوې (جنوری ۱۰ څخه تر ۲۷ اپریل)

### د پاکستان څخه بیرته راستانه شوي

سپین بولدک




تـــــورخم



### د جمهوري اسلامي ایران څخه بیرته راستانه شوي

اسلام قلـــــعه



میلـــــــــک

